# فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| مخکینۍ خبرې | ی-و |
| د مترجم لنډه پېژندګلوي | ات-ب |
| کور ودانی | لس |
| د لارښود استاد نظر | الف |
| تقریظونه | ج |
| د مترجم سریزه | ك |
| د مولف پېژندګلوی | ق |
| د مولف سریزه | ر |
| لومړی څپرکی ، مخکنه | ۱ |
| دوهم څپرکی ، خلك | ۱۲ |
| دریم څپرکی ، لرغونی افغانستان | ۳۵ |
| څلورم څپرکی ، احمدشاه بابا | ٥٤ |
| پنځم څپرکی ، دسدوزو سقوط | ۷۷ |
| شپږم څپرکی ، دانګریزانو راتګ | ۹۵ |
| اووم څپرکی ، داکلینډ حماقت | ۱۱۸ |
| اتم څپرکی ، خورد کابل | ۱۳۵ |
| نهم څپرکی ، افغانستان له ۱۸٤۲ څخه تر ۱۸۸۰ پورې | ۱٦۰ |
| لسم څپرکی ، امیرعبدالرحمن خان | ۱۹٤ |

تعمق او په زره پوری مطالب یې موږ دې نتیجې ته رسوي چې دافغانستون دکابل سلطنت بیان نومی اثر ترڅنګه دار ز لدفلیچر دغه اثر یو ډیر غوره اند ول وبولو چې ډیره خارجي لیکوال له خوا ز مرز دټولنې اوتاریخ په باب لیکلی شوی دی. داثر په ښه ګنو اودهغه په څر ګوالی باندې دلاښه پوهید لو او قضاوت کولو له پاره زه لوستونکي دې ته رابولم چې په دې باب زموږ دخپلو یوشمیر تکړه لیکوالو هغه نظریې ولولي چې دتقریظونو په حیث داثر په باره کې دکتاب تر پیل دمخه راغلي دي اوهمدارنګه دمترجم اوهم پخپله دلیکوال سریزې دي هم نه هیروي ځکه دغه برخې دکتاب دانډې پیژندنې او دلیکوال دکاراوهدف په باب ریما اچوي او البته دکتاب تر لوستلو وروسته به خپل قضاوت پخپله دهغه په باب وکړي .

داخبره هم دیانه ولروره بولم، چې دکتاب مترجم دسر محقق مرستیال ښاغلي جبارناصر ددغه اثر په ژباړلوکې ډیرې ستونزې ګاللي دي اودامانت ساتنې په خاطر یې حتی یو نیم ځای دمطالبو دروانې اوبې تکلفې خیال هم نه دی ساتلي یاپه بله وینا لوستونکي باید دبیخي آزادې ترجمې په فکر کې دایم نه اوسي ځکه دمترجم له خوا دامانت ساتنې په خاطر یونیم ځای په اصطلاح تکي په تکي ژباړه او له بلې خوا دکتاب اصلي متن هم په ډیره عالي سویه او پیچلیوانګریزي جملو او عباراتوکې لیکل شوی دی اوپه روانه ژبه دهغو پښتو کول ذاتاً دځینو ستونزو سبب ګرځي اوګرځیدلی دی. لاکن دمفهوم ښکلا او دمحتوا اومتن غنايي لدښکه، دانیمګړتیا تلافي کوي او کله چې سړی دکتاب یو څپرکی پیل کړي خامخا په دغه پسې دبل او بیا دبل دلوستلو تلوسه او مینه یې تحریکیږي .

یوه بله خبره چې باید په پام کې ونیول شي دغه داده چې دافغانستان دپخواني پاچا محمد ظاهرشاه دنوری دوروستیو کلونوجریانونه په زماني لحاظ دحال په زمانه کې افاده او بیان شوي دي او دلوستلو په وخت کې سړی فکر کوي چې ګوا کې همدا اوس داسې او یا هسې شوي پیښیږي. په داسې حال کې، چې همدغه بیان دنن ورځې په حساب دکابو دریو لسیزو دمخه کلونو پیښې دي او په هماغه

څلور

# دپوهاند دکتور مجاور احمد زیار اواک (نظر)

د محقق عبدالجبار نادر ساپي ژباړه مې وکتله ، هماغسې چې له اره یو علمي تحقیقي اثر دی او دلیکوال د ډېرو اوږدو کلونو څېړنو، ګروېږنو او هاند و هڅو ببره او او زیږنده ده دغسې دژباړونکي لږ تر لږه دکال دوه زیارونو او ربړونو پایله ( نتیجه) بلل کېدای شي . ښاغلي ژباړونکي نه تش دبره ژباړونکي بلکې تر هر څه د مخه ډېر محقق په توګه ددغه ګټور کتاب پر ټولو اړخونو ځان پوه کړی او ښه یې سهلې اوبیا یې پرېوه ښکلې روانه او له دې سره سره پرېوه معیاري وزمه پښتو را اړولی دی .

دنیوړ پانګې ( در ونما یه محتوا ) له پلوه هم داړونسدی ځانګې او بیا پخپله دپښتو اړوونکې امرنه ( انتخاب) د ستاینې وړ دی . دا داسې یوه غوره علمي تحقیقي اثر دی چې تربل هر خنیځو پوهاند یې، که مخکېنې دی که وروستنې دافغانانو ټولنیز ژوند ښه تر څېړ لې دی. هم پکې تاریخي اړخ څېړل شوی هم اتنیک، هم فرهنګي هم اقتصادي ، هم اجتماعي ، هم سیاسي . دا کتاب یو ګټور او معتبر اثر دی او زیات مواد لري ځکه یې دچاپ سپارښتنه کوم .

له کله راهیسې چې ښاغلي ساپي ددغه ستر علمي کتاب په ژباړنه لاس پورې کړی ما سم ورسره نږدې مرسته او لارښوونه هم ملګري کړې دی . په ریښتیا چې ( انګریزي ) دنورو اړو پاییږ مختللونو مهال فرهنګو ژبو غونډې له هره پلوه لیکلاري اوستایل له مخې له پښتو اونورو ژباتو ختیزو ژبو سره خورا بې خرته او بې ګچه توپیر لري، غونډلې ( جملې) یې ډېرې پېچلې اودچا خبره ډېرې ادبي او علمي او ورسره ورسره دخورا رنګارنګو ګړنو ( ایډیمونو) او څرګندنو (اکسپرشنونو

يو ناشكره زوى د پلار پر مخ ينوه ماته ده

پر ينبودلى يو عيب دى چيري كوبل يى يو درد.

بهتر متل

# پنځم څپرکى

## د سدوزو سقوط

له احمد شاه بابا نه اته زامن پاتې شول. تيمور ميرزا د هغه گرانو او منتخب وليعهد په سن کي د هغه تر بل زوى سليمان ميرزا څخه کشر و. تيمور د خپل پلار د مرگ په وخت کي په هرات کي و. هغه سمدلاسه کندهار ته راروان شو او په لار کي خبر شو چي يوې ډلې سردارانو د وزارت جنگيالي شاه ولي خان په مشرى سليمان د خپل كانديد په حيث ټاکلى و.

د تيمور له سقوط څخه د هغه د پلار وزير ... او جنگ چي شهزاده تيمور کندهار ته ورسيده د سليمان پلويانو ... بيعت وکړ چي په هغوى کي ولي خان چي لوړ ... له سليمان سره وعده کړې وه هم شامل و او ظاهراً يې د کوزنى احساس ته ليجاره ورسکره چي د ده پر قضاوت باندي اغيزه وکړي. د پاچاهي پټ د اتل له خوا د غه له خپل عزم څخه گرځيدلي د تيمور مخه و نه نيوله چي هغه اعدام نه کړي او د لسيو د غشتي قاطع تصميم وچي د سليمان پاتي ملاتړي قانع کړل چي د هغوى داعيه ناکامه ده. دوى له خپل کانديد سره هندوستان ته وتښتيدل او فراره شول.

تيمور شاه چي نوى پاچاهي ته رسيدلى و په ١٧٤٦ کي مشهد ته نږدې زيږدلى و هغه د خپل پلار د گران زوى په حيث د افغاني پاچاهي په فن کي په غور سره روزل

هندته دیوه جدي ګواښ مانادرلوده اوپریکړه یې وکړه چې دانګریزانوګټې باید حتماًدیوه فوري اواغیزناك اقدام په واسطه خوندي وساتلې شي. دهغوی پلان داو چې دامیر دوست محمدخان پرځای فراري شاه شجاع جانشین وګرزوي چې پس له هغه دانګریزانودګوداګي په حیث په یوه داسې طریقه پاچا هي وکړي لکه د هندوستان دشهزاده نشینانوپه ولایتوکې .

دغه پلان اصلاً دانګریزانودسکرتریت(دارالانشاء)دجاسوسۍځانګودآمرویلیم هې مکناټن(WilliamHay Macnaghten) په دماغ کې راپیداشویالږترلږه هغه وخت چې مکناټن( Macnaghten )مرواوله ځانه یې دفاع نه شوکولای دهغه همکارانوپه وروستیوکلونوکې دغه ویله. پلا ن چې زیات احتمال لري دهغه اختراع وه دشورا دغړوله خوادراېوپه اتفاق سره تأید شواوپه زیاتې علاقمندۍ سره دآکلینډله خوا اومنل شو.

وروسته له هغه چې آکلینډ دخپل اقدام په برخه کې له ځان سره فیصله وکړه، د۱۸۳۸ کال دمې په میاشت کې له رنجیت سنګ سره دیوه ملاقات لپاره یې لاهورته سفروکړ. دلته یوتړون چې د درې اړخیزه تړون په نا مه سره یاد یږي دجولای په ۱٦ ، دشاه شجاع له خوا اودجولای په ۲۳ ، درنجیت سنګ له خوالاسلیک شو. ددغه تړون تر شرایطو لاندې شجاع بایددتولې هغې سیمې لـه دعوی څخه لا س اخیستی وای چې سکانونیولې وه اورنجیت سنګ بایدله شاه شجاع سره مرسته کړې وای چې دافغانستان پاچاهي لاس ته راوړي. شاه شجاع بایددهغې لارې څخه پـه کندهاربا ندې بریدکړی وا ي چې هغه په ۱۸۳٤ کې پرتللی وپه داسې حال کې چې دسکانویولښکرچې مشری یې د شاه شجاع مشرزوی تیمورمیرزاپه غاړه وه باید چې دخیبرله لارې په کابل باند ې بریدکړی وای .

یو څومذاکرو آکلینډقانع کړ چې انګریزانود سکانوله رهبرنه یوازې دکـا غذ پرمخ دوعدوتوقع کولای شوا ی . په حقیقت کې رنجیت سنګ نسبت وتهدیدته چې دافغانانوله خوا ورته متوجه و دسوتلج( Sutlej )له ساتنې سره چې دانګریزانو

پښتانه یوه بله موضوع وه . دغړو خلکو په حیث هغوی ته رسیدل ګران واو نسبت خپلو بیدیا نیشنو ګاونډیانو ته جابر وو او برخلاف د هغو خو هغوی د خپلو مشرانو له خوا نه کنټرولیدل . د پښتنو په سیمه کې د انګریزانو له لومړنیو حرکاتو څخه چې هغوی د خپلې پالیسي پر اساس چې هغه «د مخ په وړاندې پالیسي» وه ، سرته ورسول داوچې د ګنډملك له تړون څخه د سرغړونې په صورت کې د کوټې داورګادي پټلۍ له ژاړه چمن څخه ، تړنوي چمن پورې وغزوي . انګریزانو عقیده لرله چې پخوانی ځای د اوسنۍ پټلۍ د پیل د پاره نامناسب و ؛ مګر ستراتیژیکی نتیجې څرګندوې او د امیر عبدالرحمن خان د غوسه ناکو احتجاجونو موجب وګرځیده چې انګریزانو هغه په نرمه او پسته ژبه بې اساسه وګڼله . د افغانستان او لویې بریتانیې ترمنځ د ستونزو یوه برخه د دغې دورې په موده کې تصادفاً د آسیایانو په مقابل کې د برتانوي مامورینو د مهربانۍ رویې په نتیجه کې رامنځته شوي وه . د ځینو دلایلو له مخې انګریزانو (چا چې یو ځل د افغانانو په برخه کې د ستاینې وړ معیار پراساس قضاوت کړی و) او س یې داسې ګڼله چې هندیان او افغانان اساساً تیت خلك وو ـ یو نظر چې هندیانو ته لمسونکی او افغانانو ته په قاروونکی و .

افغانانو و نشو کړای چې شخصي احساسات یو ې خوا ته کړي : نو لا چا ریې ځانونه په خطر کې احساس کړل کله چې د مخ په وړاندې تګ سیاست څرګند شو . په ۱۸۸۹ او په ۱۸۹۰ کی انګریزانو زیات پوځي عملیات د شیرانیو ، اورکزیو او عیسازیو پر ضد په غاړه اخیستي وو . همدارنګه په ۱۸۸۹ کې مهاراجا پرتاپ سنګه په کشمیر کې له خپل واك څخه غورځول شوی و او نومړی هیواد دیوه برتانوي اوسیدونکي تر کنټرول لاندې راوستل شوی و . له کشمیر څخه نظامي هیئتونه هونزا ( Hunza ) او ناګار (Nagar) ته ولیږل شول چې دا دوه په فني لحاظ تر لاس لاندې مګر د حقیقت له پلوه په خپل شمال لویدیځ سرحد کې خپلواك حکومتونه وو . د خپلو غړو نو په واسطه احاطه شویو هونزانو او ناګار کنجوتیانو د (kanjutis) ځانونه له حملې څخه خوندي تصور کړاوه .

او د لهه یارقن (Leh-yarkan) په لار کې یې دولجي او د مریانو په خاطر د کاروانونو

خلک دجهاد او پان تورانیزم لپاره راوبلل. (۷)

دابراهیم بیگ لیاقت او دانورحیثیت د بسماچي داعیې یا مقصدته باارزښته وو؛ خواینده پېماشینګنو، زیاتو چاودېدو نکو موادو، تنظیم او سازمان پوري اړه درلوده. د ۱۹۲۲ کال دجون په ۱۲ دانور پر لاربنوونې از بك آمي سواران بارسون ((Barsun ته نږدې په څپونکې توګه مات شوي وواو دآګست په ٤، پخپله انور افغانی سرحد ته نږدې په یوه اخ اودب کې دبوه نا معلومـه (سره) Red سو اره سري د تـوري په واسطه تو ټه (قطع) شوی و

امان الله خان ته خبر په داسې حال کې ورسیده چې هغه په شمالي سرحد کې له نادر خان سره مشوره کوله. هغه د یوځـه وخت لپاره دآموسین په شمـال کـې د څرګندې پراختیا په واسطه نارامه شوی و او په دې وخت کې یې پریکړه وکړه چې په شمال کې دپراختیا غوښتنې له تولوادعاګانو څخه تیرشی او دپخوا په شان هغه په ختیځ او جنوب کې متمرکز کړي. بې له افغانی کومك څخه بسماچي غورځنګ بوه میرنی خود بانلهډیني بریدونو یوه بې ګتې لړی ته سقوط کړی وچې ابراهیم بیگ دوام ورکړ چې دیو څو کلونو لپاره دبانلهیتی برید ونود بی ګټی لـړی لاربنوونه وکړی. فراری امیر سیدعلیم په کابل کې دیوه قره قلي سوداګر په حیث یو بې خونده موجودیت ته ځاي پر ځاي شو چې په دې کار کې یې له افغانی حکومت څخه مالي مرسته تـرلاسه کړه خو د پر و مبینو خوشالیو لپاره یـې وخت ترلاسه نه کړ. په داسې حال کې چې دافغانانو او روسانو ترمنځ اړیکې خر ابی شوې وې داپه همدې وخت کې وچې انګریزان دغیرعادی پاملرنی ورو ګرزېدل. غازی امان الله خان چې دانګریزانو غوښتنې بې منلې وې له هندی انقلابیونو څخه وغوښتل چې له افغانستا ن څخه ووځي داځ، ګرانه پریکړه نه وه ځکه چې حتی دافغانستان میلمه پا لنه د د غـو دا یمې میلمنو په واسطه ترفشار لاندې راغلې وه. زیاتره له هغـو څخه روسیې تـه لاړل اوهلته دهغوی سور هر کلی وشو.

په عین وخت کې د کابل لرغوني ښار په ضعیف دول سره جهانـي بښه غوره

توګه عمل وکړي، نو دهغه سپکاوی د حساسو افغانانو له نظره پټ نه و. کله چې برتانویانو غازي امان الله خان ته اجازه ورنه کړه چې بندي ګاندي سره و ويني، هغه نو رهم په غصه شو او و پاریده او په غچ اخیستنې کې یې زیاتې خطابې چې هندوان او مسلمانان یې یو والي ته را بلل ورکړې او د خپل هندي اوریدو نکو په اذهانو کې یې هیڅ شك پرينښود چې د سوراج د مسألې په باره کې دده دریځ څه و. دادوار و خواوو ته یو خلاصی او هو سایې وه کله چې افغانانو د دسمبر په ۲۶، په کښتۍ کی ارو پاته سفر وکړ. لومړی توقف چې یې په مصر کې یو ولس ورځنی سفر و بیا څندان بریالی نه و ځکه چې غازي امان الله په ښکاره توګه په مصریانو باندې چې د برتانویانو تر کنترول لاندې و دهغوی دمهربانۍ له امله انتقاد وکړ. هغه همدارنګه پاچا فواد په یوه پوځي معاینه کې ددیرشو دقیقو لپاره انتظار وساته؛ دغه دول سستي په افغانستان کې نامعلومه نه وه خو په مصر کې د پروتوکول دیوې جدي ماتونې په حیث وګڼل شوه.

ورپسې د اروپا او د بریو درسم ګذشت وارراغی. ۱۹۲۸ کال د سولې او ارامۍ یو ګډ ودوخت و؛ دورځپانو مدیرانو د اخبارونو موضوعات نه لرل او له یوه از پیژندل شوي هیواد څخه، یو سلطنتي هیئت د اخبارد سرلیك لپاره د یر ښه مواد برابر کړل ځکه، چې غازي امان الله خان دیر مهربانه او په معتدل دول سره یو عجیب انسان دواړه وا او همدارنګه ملکې ثریانه یې ازې جذابیت درلوده بلکې ښکلا یې هم لرله چې د دې ښکلا د اروپاله شاهي ښکلا سره په غوره توګه پرتله کیدای شوه.

په ایتالیا کې غازي امان اله خان له پاچاڅخه دزیري (داخترد خت) غړوندی (Coilarofthe Annanciation) * تر لاسه کړ (چې په دغه توګه یې دغه دوه کسان سره د تره زامن وګرزول) او له پاپ (Pope) څخه یې یو د طلائي مهمیز نښان (Order of the Golden Spur) تر لاسه کړ. وروسته یې بیا د فرانسې او المان له

* دبشارت اختر (هغه اختردی چې هر کال دمارچ ۲۵ دمسیحانو له خوا جوړیږی مسیحانو په عقیده په هغه وخت کی جبرائیل د عیسی مور مریم ته خبر ورکړ چې عیسی به له هغی څخه پیداشي فرهنګ کامل لومړی توك ۲۵۲ مخ. (مترجم)

چې د افغانستان آزادي خوندي وساتي متحد وو. له دې امله حکومت د جګړې بې
طرفي د ریخ اعلان کړ چې دغه د ریخ د ۱۹۴۰ کال د آګست (August) په ۱۷، په
یوه شاهي اعلامیه کې بیا تائید شو. دغه بې طرفي په ټوله جګړه کې ثابته پاتې
شوه که څه هم دا بې طرفي د متحدینو دېږو غوښتنو په واسطه تر فشار لاندې
راغله چې دغه غوښتنه د ۱۹۴۱ کال په منځ کې د ټولو محوري اتباعو دا یستلو
لپاره شوې وه. دغه اخطار نه یوازې په ملي غرور باندې یو ګوزار و بلکې دې خبر
داري د افغانستان پر له‌پسې را پیاوړو دودونو څخه یعنې د ملمه پالنې له قانون څخه
د سرغړونې غوښتنه کړله. زیاتره له افغاني مشرانو څخه د مقاومت ملاتړو کړ مګر
هاشم خان وضع په ډېره څرګنده توګه درك کړه؛ په ایران کې د رضا شاه پهلوي
سرنوشت یې عیني درس و په داسې حال کې چې خپرا لرې بریتانوي پوځ د سرحد په
تاریخ کې په افغاني سرحد کې اندول برابر کړی و. د مطلب لنډیز یا وروستۍ ټکی دا و چې
له محوري اتباعو څخه وغوښتل شول چې له هېواد څخه ووځي که څه هم افغاني حکومت د
افغاني مشرانو لویې جرګې ته په احتیاط سره ښه ور کړه چې د دغه اقدام ملاتړو کړي؛
وروسته له دېنه هلته یوازې جزئي پېښې په جګړه کې شاملې وې. یو څو زره ور
جرمني او ایټالوي جاسوسان په سرحد کې منځپاره شول او قبایلو ته ورسیدل. یو له
دغو څخه ډېره ضد جاسوس په واسطه یوه وژونکې کمین ته وروستل شو؛ بل
یې د افغاني پوځ له یوه واحد سره له ټکر نه وروسته ونیول شو.

له هغې نړۍ نه ئې پیر درلرده له کومې سره چې افغانان بلدوو . جرمني نسکور
او تیت تیت شوی و ، دامریکې لرې متحده ایالات د نړۍ درهبر په حیث څرګنده
شوی و . شوروي اتحاد چې له جنګ نه سلامت وتلی و تیت شوی وخود تردې
اندازې پورې مرموز او قوي وڅرمره چې پخوا و . له بلې خوا دلویې برېتانیې
دامپریالیزم دوره دو ره پای ته رسیدلې وه او کراره کراریې ځان چمتو
کاوه چې هندوستان د تل لپاره پرېږدي :

دهغه څه درک ته چې دا رد زې زمانې راهیسې دېره لیوال افغان هیله وه چې
که څه هم په زړه پورې وه ، خو یوزیات شمیر نورې ستونزې یې را منځ ته کړلې :
دافغانستان خلک سره له دې چې د تیرې په مقابلکې یې میړانه ښودلې وه ،
افغانستان تر یوې اندازې پورې په څرګنده توګه دخپلې آزادۍ لپاره دبریتانیې
دځواک دشتوالی مرهون وچې دافغانستان په سرحدکې یې موجودیت درلوده :
له هغه متقابل قوت څخه پر ته دانا څرګنده وه چې ایاد کمو نیستي روسیې
پر اختیا غوښتلې مخه به د آموسین څنډې نور هم راګرزولې وشي او کنه :

افغانانو سمدلاسه درک کړه چې دلوی برېتانیې دقدرت چې دشوروي
اتحاد پر اختیا په مقابلکې دېره څنډ په توګه موجود وخپل ځای دامریکې
متحده ایالاتو ته پریښی و . داوضع پخوا له پخوانه دېره ښه اتکل شوې وه څکه
نو امریکایانو دافغانانو په نظر تر بلهر او لس لوړ مقام درلود .

په دویمه نړیواله جګړه کې ددوی څخې هغوی تر زیاتې اغیزې لاندې راو-
وستې وواو یوخو ترتنه محصلین چې هغوی امریکې ته تللي ووپه شوق او ذوق سره
بیرته راستانه شوي وو . هغه څه چې لاهم دافغانانو له نظره مهم وهغه البته شهرت
او اعتبار وچې وروسته له هغې نه متحده ایالاتو په اسیاکې دامپریالیزم په مقابلکې
دخپل دریځ له امله ترلاسه کړي و .

د۱۹۴۲ کال په لومړیو وختونوکې محمدهاشم خان چې صحت یې ښه نه و
دافغانۍ چارو له دیارلس کاله رهبرۍ څخه وروسته دشخصي ژوند په خاطر یې

برسيره پردې، افغانستان چې شمېرېسې مخ په زياتېدو ونه يوازې معتقدو
چې د هلمند دناوې پروژه له پيل څخه يوه سهوه وه بلکې دا يې هم منلې وه
چې لږ تر لږه د امريکې حکومت هم څه ناڅه د دې پروژې د ناکامۍ په برخه کې
مسوول و. البته له دې څخه انکار شوی دی چې خو يو شمېر خارجي متخصصينو چې
په هغو کې ځينې امريکايان هم شامل دي سره موافقه کړې ده او په دې کې هيڅ
شک نشته چې په دې پلان کې ځينې د پام وړ او مهمې نيمگړتياوې موجودې وې.
ترکومه ځايه پورې چې خبره د پلان په اجرا او تطبيق پورې اړه درلوده، وريسن
ولسن اغېزمنه دنده سرته ورسوله چې د هغه کارتر هغه کارزيات غوره وچې په دې
هېواد کې د جرمنيانو او جاپانيانو له خوا سرته رسېدلی و. دا ربنتيا ده چې د دغې
پروژې بنسټ د دې پرځای چې د زرگونو اخيستلو لپاره کېښودل شي د اوږدې
مودې لپاره ايښودل شوی و او دا احتمال نه لري چې د افغانستان په څېر يوه
پرمختيايي هېواد کې څوك د اوږو اوږدو د اصلاح کولو او داوږو بريښنا دارزښت
پرضد مناقشه وکړي. خو له محدودې اندازې پېسو سره چې موجودې دي داد پوهنتې
وروه چې ايا د افغانستان لپاره د پرمختگ په دغه پړاو کې عاقلانه وچې د هلمند
پروژې ته د لومړيتوب حق ورکړي کنه. د دې پروژې له پيل نه اتلس کاله وروسته
او په دې پروژه باندې دېرش سلو پنځوس مليونو ډالرو له لگولو نه وروسته ( چې د
افغاني معيارونو له مخې خورا ډېرې پېسې دي) د نومورې پروژې کلنۍ عايد لس
مليونه ډالره و. دغه رقم معمولاً په آزاد بازار کې په سلو کې لس تيت واو د پور
د بېرته ورکولو په برخه کې هيڅ شي سرته نه رسوي.

هلته د دغه پرتله يزې نه کمې لپاره څرگند دلايل شته. د هلمند دناوې د بېچلې
پروژې په کار اچونه موثر بېړه کړاتان. ماهر اداره چيان او تجربه لرونکي کارگران
ايجابوي چې دغه تيزل په افغانستان کې بېخي لږ دي. که څېري له کوم يوه انترو
پولوجست سره مشوره شوې وای، نو هغه به داد سره اتفاق کړی وای چې په
آبادو شوو ځمکو کې به د افغاني کوچنيانو د ميشته کولو عالي مفکوره د عمل جامه وا

نه غونډي. د کوچيانو مهاجرتونه دهغو میشته شوو بزګرو له مهاجرتونو سره په تیره بیاد اوبولګولو ني ديوه مکمل سيستم د په کاراچولو په برخه کې ازارتباط لري. زياتره له ترکستني او پښتني کوچنيانو څخه چې هغوی دې پروژې ته راوستل شويوو زرخپلو کيږديو او وښانوته ستانه شول په داسې حال کې هغه چې پاتې کيدل مبارزه يې کوله چې په معمولي توګه داسې ژوندوالي چې دارتياوو ديره کمه اندازه يې برابره کړي.

دبشرترناکامی څولاز بات خطرناك ډير وروسته ده کشف وچې په زرګونو جريبو آبادې شوې ځمکي بنوره او القلي وې چې دبنوره توب او القلي توب درجه يې زياته وه. دسيمې خراب زيم ايستنې يا وچولو ني دويلي کيدونکو مالګو د عادي جريان کيدلو عمل تقريباً ناممکن وګرزاوه. په نتيجه کې دځمکې زياتره برخه يې کاره ثابته شوه.

داد افغانستان او متحده ايالاتو ترمنځ داريکو په هغه خطرناك او بحراني حالت کی وچې پاکستان خپل «ديو يونټ» پلان اعلان کړچې دلويديځ پاکستان دولايتونو سره يوځای کيدنه يې ايجابول. پاکستان له دغه کارسره پرته له دې چې افغانان نا ارامه کړي نورځه ونشو کړای چې د هغوی په فکر د شمال لويديځ سرحدي ولايت له منځه وړنه دحرکت يوه برخه، پريښده چې د شرقي پښتنو هويت له منځه يوسي. دا بی له شك څخه يوله هغو انګېزو څخه وو چې د پلان ترشا موجود وو ځکه چې نوې فرقه پرستی دپاکستان مسأله دخورا جدي مسألې په حيث پريښوده. دا په زره پورې ده چې ذکر کړو چې دخداي خدمتګارانو مشر داکتر خان صاحب دلويديځ پاکستان امر شو، په داسې حال کې چې دهغه ورور خان عبدالغفارخان له پښتونستان څخه په خپل ملاتړ کې ټينګ پاتې شو او ديوه مخرب په توګه د پيغور په دول په خپل کور کې ترنظارت لاندې ونيول شو.

داهغه وخت وچې افغانستان له متحده ايالاتو نه خپه وه، دخپل اقتصادي پرمختګ

خارجیانو د راتګ موجب ګرزېدلي دي چېرې چې هغوی په نرمۍ او له پوشان
چال چلند سره مخ شوي دي او په دې ډول په پای کې د افغاني تعصب افسانه
پای ته رسېدلې ده. د الوتکې پر شمېر چې په هغو کې د (KLM هندي الوتکې
(Indian Airways) او سوفلوت (Sotflot) شاملې دي کابل ته منظمې الوتنې کړې
دي چې د دې الوتنو په نتیجه کې بهرني توریستان را پېښېږي، او چې له لارې د دوه
ورځنې مشکل سم کولو نه پرته دې هېواد ته سفر وکړي.

د نړۍ لپاره د افغانستان په حرکت کې یو بل خاصه توګه ډېر مهم پرمختګ
په ۱۹۲۹ کال منځ ته راغی او داهغه وخت و چې د غازي امان الله د دوره او بد-
مرغۍ راوړونکې تجربې راهیسې د لوړې زده کړې لپاره د افغاني ښار او نوښځې د
ده حجاب څخه ښکاره یا راوو تلې (مخ لوڅې شوې) چې د یوې پېړۍ
لپاره یې هغوی پټې ساتلې وې. تر غازي امان الله خان وروسته ټول مشرانو
دغه دود له امله خپله کړکه څرګنده کړې وه چې نه یوازې یې د هغوی هېواد
د خارجیانو د نظر ورو ګرزاوه بلکې د ښځو روغتیا ته یې هم زیان ورساوه او
د دې د اقتصادي پر مختګ په لار کې یې د هغې د برخې اخیستو مخه ونیوله.
دا چې پخوا د دغه دود د ماتو لو په برخې کې هیڅ کله ښځې نه دي شوي سبب
یې دغه ټینګه عقیده وه چې په دغه لار کې د غازي امان الله خان هڅو د ده پر
ضد بلواګانې مرسته کړې وه. د محمد داود حکومت لکه څنګه چې یو وخت په
اقتصادي مسایلو کې او له شوروي اتحاد سره په معامله کولو کې له خپل استحکام
څخه زیات ځاده او د خپلو اسلافو په پرتله تر بخي اشتباهاتو کې دېر بې حد صلي و.
دا په ډېره توګه په خوښۍ او رضایت سره و چې افغاني مشران په کابل کې
د نجونو په ښوونځي کې په حجاب باندې د بندیز له نوي ترتیب څخه خبر شول.
حکومت د دې برخلاف چې د تر طبې چې په هغې کې د ښتېاه د شاهي کورنۍ ځینې
ښځینه غړو لاس درلود د مخې نیولو په برخه کې په یولړ اقداماتو لاس پورې
کړې، فقط د ژاندارمۍ قوماندانۍ یې د احتمالي ستونزې د مخنیوي لپاره تیارسی

الو تـکو یو گروپ وړاندې کړ. په دغه طریقه دمیوې تول حاصلات په موافقانه توگه شوروي اتحادته دبیړیو په وسیله ولیږل شول او له هغه ځایه څخه یې ددغـو حاصلاتو زیاتره برخه په یوځه گټې سره د شمالي اروپا په بازار انو کې بیا وپلـورل شوه. په عین وخت کې دشوروي اتحاد انجنیرانو په لویو لارو باندې کار چټک کړچې افغانستان په کوشـکک کې د شوروي اتحاد داورگاډي د پټلۍ له سر سره ونښلوي.

باړي او کرمي په دهو کي میشته دي. په دوی کي د شیعه مسلمانانو یو واقلیت موجود دی ؛

## پڼي ( پڼړي )

شمیر یی تقریباً ۲۵۰۰۰ ته رسیږي او د بلوچستان په سیمي کي اوسیږي . تر دیري اندازې پوري دبلوڅانو په شان دي :

## ساپیان

دوه څانګی لری: ساپیان او کندهاریان . شمیر یی تقریباً ۴۰۰۰۰ ته رسیږي او د کمړاو پنجشیر سیند او نو تر منځ اوسیږي چي په افغانستان کي دي.دوي په مذهبی مسایلو که تریوي اندازې پوري متعصب ګڼل کیږي. زیاتره یی په څیره کي ښکلي دي ؛ روښانه سترګي او وینتان لري :

## سم زا نی زي

دښکته سوات په سرحد کي دغرونو په لړی کي پراته دي تر زیاتی اندازي پوري مخلوط دي؛ ښاییی یوه څرګنده او ممتازه قبیله نه وي. نفوس یی تقریباً ۱۰۰۰۰ ته رسیږي :

## شلمانی

یوه کوچنی قبیله ده. شمیر یی تقریباً ۴۰۰۰۰ ته رسیږي او دافغانی ښارګوتي په شمال او ختیځ کي ژوند کوي. دغوی مومندو سره دخپلوي ادعا کوي.

## شینواری

یوه قوي قبیله ده چی تقریباً ۸۰۰۰۰ نفوس لري. دجلال آباد په دره کي ژوند کوي چي دسپین غره له لړیدیځ څخه، نیولي بیاد کابل ترسین پوري پر ته ده؛ شینواري په څلورو څانګو ویشل شویدي: میندیزي، سنګو خیل، سیپای او علی شیر

**خیل**: زیاتره یې خوشاله او نیکمرغه بزګر دي. **شینواریپه وسلهپه سمبال‌دي.** **دزړورتیاله امله** یې دېر ښه شهرت لري. **۱۹۲۹ کال کې ددوی بغاوت دغازي امان الله** دایستلو موجب وګرزیده:

## شیرانی

**ښې**: لرغه او برغه شمیر یې تقریباً **۴۶۰۰۰ ته رسیږي. هغوی ددیرهٔ اسماعیل** خان اودژوب سیمې په شاوخوا کې **اوسیږي. دوی دنوروپښتنوپه منځ کې** شهرت لري. دار کزیوپه شان هغوی **دشیعه اقلیت لري**.

## ترین

**دوه ګروپه دي**: تور ترین اوسپین ترین. دتور ترینوشمیر **تقریباً ۵۰۰۰ ته رسیږي او دچمن** پهختیځ او جنوب کې ژوند کوي؛ **دسپین ترینوشمیرهم تقریباً ۵۰۰۰ ته رسیږي او دلورلایې** په ختیځ او جنوب کې اوسیږي. **برسیره پردي تقریباً ۳۰۰۰ سپین ترینان دپاکستان** پههزاره نشین سیمه کې **اوسیږي**.

## توري

شمیر یې تقریباً ۲۵۰۰۰ ته رسیږي. **دوی دکرمې په دره کې ژوند کوي چې ددیورنډ** تر کرښې پورې رسیږي. هغوي یوازني **پښتانه دي چې دمذهب له پلوه کاملاً** شیعه دي.

## اورمړ

**یوه** عجیبه ګروپ دی او احتمال **لري چې دپښتنو له اصل څخه نه وي. تقریباً ۳۰۰۰** نفر و ته رسیږي او په کانیګرام کې ***اوسیږي چې دوزیرستان پهمرکز کې واقع دی**؛ تقریباً ۶۰۰۰ یې په صحیح ډول **دپیښور په جنوب کې اوسیږي**؛ **تقریباً**

---

* داکلمه په کتاب کې لاني ګرام په شکل راغلې ده. دا یوه طباعتي غلطي ده ځکه چې دلاني ګرام **په نوم کوم ځای په وزیرستان کې نشته.** (مترجم)

۳۰۰۰ یی کابل ته نژدي دلوګرپه یوه دره کی ژوند کوي. دوهاخري څانګی یی په پښتو خبرې کوی خوهغوی چی پـه کابل ګـرام کـې اوسیږي پـه یوه ژبه خبرې کوي چې هغه داورمړي یابرګستا په نامـه یادیـږي چې ظنا هـرآ یوجلا ژبه ده که څه هم دایراني ژبې له کورنی څخه ده :

## اوشـترانیان

شمیر یی تقریبآً ۷۰۰۰ دی دوی میشـته شوي بزګـردي او دسانهپیمان کـلا اود سندسین تر منځ اوسیږي .

## اتمانخیل

شمیر یی تقریباً ۴۰۰۰۰ ته رسیږي . دسوات دسیند په دواړو خواوکـی دپښور په شمال اولویدیځ کې اوسیږی زراعتی چاري سرته رسوي .

## وزیر (درویش خیل)

پښې :اتمانزي اواحمدزي.شمیربی له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات دی. پهوزیرستان کی ژوند کوي. اتما نـزي یـی پـه شمال کی اواحمدزي یې پهجنوب کی تقریباً ۱۵۰۰۰ نفریـی برمل ته نژدي په افغانستا ن کې اوسیږي‌اوپه زیاتیدونکی توګـه یوه هیبتناکـه‌اوسهمنا که قبیله ده چې زیاتره یـی پوونـده دي. وزیربه خپلو ګاونډ یانو یعنی مسود وته ‌ده جګـړي پـه برخـه کـې د مسابقې بلنه ورکړې چې ښا یې دسرحدي پښتنو ترټولوقوي اومتجاوزخلك وي .

## یوسفزي

څانګې: منډړاویوسفزي.داریا نتیاخبره خرداده‌چی‌دمنډړو یوسفزیو مع،ولاً یوسفزی بلل شویدي‌پهداسی‌حال کی‌چی‌دیوسفزوڅانګه اکثراً دهغـی‌سیمی په نامه یادیږي چې هغوی پکښی میشته دي . لکه څنګه چې دمثال په ډول، دبونیرخالك د بونیروالوپه نامه یادیږي. یوه لویه قبیله ده چې ښا یی مجموعاً ۵۰۰۰۰۰ نفرولري؛

هغوی د پېښور د شمال ته په سوات او بونیر کې اوسیږي. هغه کسان چې د دوی په منځ کې معمولاً د کارګرانو یا اجاره دارانو دهقانانو په حیث ژوند کوي ، شمیر یې لږ تر لږه دغیر پښتنو په اندازه دي :

## زیموخت

شمیر یې تقریباً ۹۰۰۰ تنه رسیږي. دوی د ژاوه غره دلړۍ په جنوبي لمنو کې اوسیږي .

## زمریانی

یوه کوچنی قبیله ده چې شمیر یې تقریباً ۲۰۰۰ تنه رسیږي . دوی د بلوچستان د لورلایی په سیمه کې اوسیږي.

## د ب ـ ضمیمه

## افغانی کورنی

سدوزیان (چې نوموړو نه یې په شاه سره ختمیږي او شاه سره پیل کیږي)

| | |
|---|---|
| احمد شاه | ۱۷۴۷ ـ ۱۷۷۳ |
| تیمور شاه | ۱۷۷۳ ـ ۱۷۹۳ |
| شاه زمان | ۱۷۹۳ ـ ۱۷۹۹ |
| شاه محمود | ۱۷۹۹ ـ ۱۸۰۳ |
| شاه شجاع | ۱۸۰۳ ـ ۱۸۰۹ |
| شاه محمود (دوهم ځل لپاره) | ۱۸۰۹ ـ ۱۸۱۹ |
| کورنی جګړه | |
| محمدزیان (امیران) | |
| امیر دوست محمد خان | ۱۸۳۵ ـ ۱۸۳۹ |
| دانګریزانو یرغل او اشغال | ۱۸۳۹ ـ ۱۸۴۲ |

# یادښتونه

## لومړی څپرکی

۱ـ افغانستان پوره احصائیه یا سروې نه درلوده . ټول ارقام تخمیني دي :

۲ـ دغه نوم لومړی د خوارلسمې پیړۍ په لیکنو کې ذکرشوی، مراکشي عرب محمد ابن عبدالله ابن بطوطه. د ابن بطوطه سفرونه .(لندن،۱۸۲۹ )

(Morocan Arab Mohammedibn - Abdullahibn - Batutah . The . Travels of Ibn Batuta Clondon 1829)

۳ـ فلیکس هاولند «له هندوکش نه تیریدنه» جغرافیایي د سره کتنه XXX : ۲۷۲ـ۲۷۸

(Felix Howland(Crossing the Hindu kush)Geographical Review xxx 272-278

٤ـ سید محمد قاسم رښتیا «دریاهاي افغانستان» افغانستان، کابل، ۱(۱۹٤٦)،

(Syed Mohammed Qasim Rishtya ''The Riversof Aghanistan,,
((Afghanistan(kabul) I (1946)

۵ـ محمد علی، افغانستان ته یو نوې لارښود.(کابل ۱۹۵۸) :

(Mohammed Ali A New Guideto Afghanistan(kabul 1958).

٦ـ دلته په ۱٤۸۰ . م.یوه لوحه له یوې لیکنې سره پیداشوه چې پـه هغې کې داسې ادعا کیده : «این آرامگاه شیرخدا وحضرت علی است .»مسلمانان غیر افغانی این ادعا را رد مینماید واصراردارند که حضرت علی درمشهد نزدیک کوفه دفن است .

(Aslab was purportedly found here in A.D.1480 with the inscription, ((This is the tomb of thelion of Allah and his Saint Ali brother of the Apostles Alla .))Non -Afghan Moslims Scoff at this Claim and insist that Ali is buried in the Meshed Ali near Kufah.

۷- دغه منطقه، په مختلفو نو مونو لکه، سکستان، سیجستان، سیستان او سستا ن یادیږي او همدا رنګه پروخت د نیمروز په نامه هم یادیدل. ۸- پ پتاوړه پخواني چیني تاریخ کې آس د یوه عامل په حیث»

Eurasia Sep:en:rionalis An:iua xxx'x: 231.

۹- د افغانستان په باب په توپوګرافي او جیالوجي پوري مربوطه معلومات لا هم لږدی. د موجودو موادو لپاره د دونالډن. ویلبر دغه، اثر «د افغانستان تفسیر شوي ببلیوګرافي» وګوری (نیو هیون، ۱۹۵٦) ۱۳-٤۷ مخونه.

Donald N. wibcr, Annotated Bibliography of Afghanistan (New Haven, 1956 pp . -13-47

## دوهم څپرکی

۱- کارلیتن اس- کوون کاروان، د منځنی ختیځ کیسه (نیویارک، ۱۹۵۱)، ۱٦۹ مخ.

Carleton S· Coon Caravan, The Story of Middle East (New York, 1951 P· 169

۲- پټان د پښتون د کلمې پوهندي تحریف دی. ۳- حدود العالم دوي. مینورسکی ترجمه (کمبرج، ماس)، ۱۹۳۷، ۹۱ مخ.

Hudud-al Alam, translated by V· Minorsky (Cambridge, Mass, 1937), P· 91 ·

٤ «التحقیق ما للهند» د محمد ابن احمد البرونی اثر، د ډاکټر ادوارد ساشاو ژباړه په ۱۹۱۰ کی په لندن کې چاپ شوید ه ۲۸۰ مخ.

Abu Raihan Mohammed Ibn albiruni Alberuni's India, translated by Dr· Edward Sachauc London, 1910, P· 200·

۵- هون مونت ستورات الفنستین، د کابل سلطنت بیان. (لندن، ۱۸۱۹) لومړی توك ۲٤۲ مخ.

Hon· Mountstuart Elphinstone, An Account of the Kingdom of Caubul (London, 1819), Vol, I P· 242 ·

٦ ـ دهیرودوت تاریخ ، د جورج راولینسن ترجمه . ( نیو یارك ،۱۹۲۸ ) ، ۳۷۹ مخ .

The History of Horodotus, translated by George Rawlinson ( New-York, 1928), P· 379 ·

۷ ـ د دغودودونولومړني معلوم لیکلی سند چې تولوپښتنی قبیلوبکښې برخه اخیستی ده د نعمت اله (۱٦۱۲ م ) په لیکنو کی شته.چی د جهانګیر پ‌مغولی دربارکي یوکاتب و . مخزن افغانی دنعمت اله اثر ، دبیرن هارډ د ورن (Bernhard Dorn) ترجمه (لندن ، ۱۸۳۹) .

۸ ـ محمد ابن‌نجیب‌بکران،استخري او آل خوارزمی . ۹ـابن‌بطوط، ۱۲۸مخ؛

۱۰ـ د افغانانو له شعرڅخه‌منتخبات ،دمیجرایچ. راوتی اثر(لندن ،۱۷٦۷ ،) ۱۸۷ مخ .

۱۱ ـ د سفیرانو بحري سفرونه اومسافرتونه . د ادم الیروس اثر ( لندن ) ، ٦٥ مخ .

۱۲ـ الفنسټن ، ٤۰۰ مخ؛

۱۳ ـ د پښتنوپه برخه‌کې اولف کیرو دغه اثرو ګوری . پټان ٥٥۰ ق . م ـ م. ۱۹٥۷ ( لندن ، ۱۹٥۸)

۱٤ ـ داروپا نژادونه . د کارلیټن اس کوون اثر .(نیو یارك ؛ ۱۹۳۹ ) ، ٦۳٤ او٦۳۸ مخونه .

۱٥ـ دافغانستان دترکی قومونو په باب دګزجارنګ دغه‌اثروګوری په‌افغانستان کي دترکي قبیلو دویش په‌باب‌په‌یوه لومړنی تصنیف کې‌هڅه (اونلز ، (۱۹۳۹) ؛ همدارنګه دوالډ یمارجو جکلسن د غه‌اثرهم وګوری . داسیایی روسیې قومونه (نیویارك ۱۹۲۸) (نیویارک ۱۹۲۸).

۱٦ـ دهزارګانو په‌باب دایلیزیت‌ای بیکان، او برك دغه‌اثر«په یورشیاکي د تولنیز جوړښت یوه‌مطالعه(نیویارك،۱۹٥۸)اوداچ.ف‌شورمن‌دغ‌اثر«دافغانستان مغل»(س ګریونهیج، ۹٦۲) وګوری ، ۱۱۰ـ ۱٥۸ مخونه .

۱۷- مرکزی اسیا. دجوسیا هارلن اثر (لندن ۵ ۱۹۳۹) ۸۲ مخ.

۱۸- شورمن (Schurmann) ۴۹-۷۳ مخونه.

۱۹- دهندوکش کافران دجورج س را برتسن اثر (لندن، ۱۸۹۶).

۲۰ دالف ضمیمه وگوری.

۲۱- دعصری کرنې په خاطر دحرکت له سببه چې اوس یې دافغانستان حکومت لاربښوونه په غاړه لري راتلونکې څو کلونه باید په افغانستان کې دزیاتو دقیقو نژادی تحقیقاتو دسرته رسیدو شاهد وی. دمثال په دول سپرولوجیکی مطالعات همدا اوس پیل شوي دي.

## دریم څپرکی

۱- دافغانستان له منطقې څخه زیاتره یې په او یستا کې ذکر شوي دي. په کومو متونو چې دغه سیمې یاد شوي دي هغه لا تر اوسه پورې څرګندې او دپیژندنې وړ دي. هندو اریایانو ته دهیوادنوم آریانا و یچه یا آریاناوبجودی. •

۲- دپارسي امپراتوری تاریخ. د. ای. تی اولمستد اثر (شیکاګو، ۱۹۴۸).

۳- افغانان ادعا کوي چې زردشت دیوه بومی په حیث دلته زیږیدلی دی خو ظاهراً هغه دخزر بحیرې ته نږدی په شمال غربی ایران کې زیږیدلی دی.

۴- هیرودت، اذیتور، هماغه اثر، ۳۷۹ مخ.

